

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه
هفته نامه آبادی

گڼه: ۳۷ | مسلسل نمبر: ۱۲۷

پنجشنبه، د جمادی الثانی ۲۷مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: علماء كرام دې خلكو ته د ديني مكلفيتونو ترڅنګ د اسلامي نظام او ملي ګټو ساتلو روحيه هم وركړي


۲ صفحه

## له کونړ سیند څخه تر درونټې بند پورې د اوبو رسولو وړاندیز د تایید وړ وبلل شو


۲مه صفحه

## سړې خوني، اقتصادي ارزښت او د کرنيزو محصولاتو په خوندي ساتلو کې يې رول


۴مه صفحه



## سرلیکنه

اسلامي امارت د اقتصاد محوره سياست په غوره کولو او د اقتصادي ودې له پاره د معياري ميکانيزمونو په رامنځته کولو سره تر دې مهاله توانيدلی دی چې د هېواد اقتصاد تر ډېره بريده په پښو ودروي. په دې ټول پوهيږو چې اسلامي امارت داسې مهال واک ته ورسېد چې د افغانستان اقتصاد په ټپه ولاړ و، ددې ترڅنګ د هېواد نور سکټورونه له اقتصادي ستونزو سره مخ وو، د پرمختګ هېڅ څرک نه تر سترګو کېده. په څنګ کې يې نړيوالې ټولنې د دې پر ځای چې له افغانستان سره مرسته وکړي، برعکس پر افغانستان يې مالي او بانکي بنديزونه ولګول. تر ټولو مهمه د افغانانو هغه شتمني وه چې کنګل شوه. خو اسلامي امارت په ټول توان سره هڅه وکړه چې د بنديزونو د منفي اغېزو له منځه وړلو له پاره بله لار پيدا کړي څو له هغې لارې وکولای شي اقتصادي ثبات رامنځته کړي. په دې برخه کې بريالی شو او دا دی اوس په پرله پسې ډول معتبر نړيوال سازمان خپله پر دې اعتراف کوي چې د اسلامي امارت په راتګ سره د افغانستان اقتصاد له نزولي حالته وتلی او صعودي مسير يې خپل کړی دی. ډېری نړيوال سازمانونه د افغانستان په پرمختګ سترګې پټوي، خو ځينې اوس نه شي کولای پر دې سترګې پټې کړي او حقايق نړۍ ته ښکاره نه کړي. زموږ د دې ادعا ښه ثبوت همدا د نړيوال بانک وروستی راپور دی چې ډېر واقعيتونه پکې ويل شوي دي. د نړۍوال بانک په وروستي راپور کې ويل شوي، چې د افغانستان اقتصاد د پرله‌پسې دويم کال لپاره د پرمختګ په لور روان دی، چې په ۲۰۲۵ ميلادي کال کې د هېواد ناخالص کورنی توليد ۴,۳ سلنه وده کړې، په داسې حال کې چې دا کچه په ۲۰۲۴ کال کې ۲,۵ سلنه وه. په دغه راپور کې دا هم ويل شوي چې د انفلاسيون ټيټه کچه، د افغانۍ ثبات او د خدماتو او صنعت په برخو کې د فعاليتونو زياتوالی د دې ودې مهم لاملونه دي. دغه بانک زياته کړې چې د وچکالۍ سربېره، افغانستان د کرنې په برخه کې د اوبيزو غنمو تر ټولو زيات حاصلات ترلاسه کړي چې د کرنيز سکتور د پياوړتيا نښه بلل کېږي. د کانونو او ودانيزو فعاليتونو پراختيا هم د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لوبولی دی. له دې څخه دا په ډاګه شوه چې د افغانستان اقتصاد ورځ تر بلې مخ په غوړېدو دی. د اسلامي امارت له لوري چې کوم اقتصادي پلانونه چمتو او عملي کېږي، پايلې يې مثبتې دي. د کورني ناخالص توليد کچې لوړوالی، د انفلاسيون ټيټوالی، د کرنې، صنعت او دې ته ورته نورو برخو کې رامنځته شوي پرمختګونه ټول د همدې پلانونو او پاليسيو برکت دی. که چېرې په همدې ډول اقتصادي وده په راتلونکو کلونو کې ولرو، ډېر ژر به افغانستان د يوه خپلواک او پر ځان بسيا اقتصاد څښتن او هېواد به له اقتصادي پلوه په سيمه کې د يوه اقتصادي قدرت په توګه راڅرګند شي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اوونيزه ابادي
هفته نامه آبادی

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: علماء کرام دې خلکو ته د ديني مکلفيتونو ترڅنګ د اسلامي نظام او ملي ګټو ساتلو روحيه هم ورکړي

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د قوس مياشتې په ۲٦مه نېټه د «جامعه فتح العلوم کابل» مدرسې د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون وکړ. محترم ملا صاحب ووېل، مدارس د اسلامي ټولنو د ديني علم، جهاد، نبوي اخلاقو، روحي او فکري روزنې او اسلامي نهضت مقدس بنسټونه دي. علماء کرام دې د وعظ او منبر ژبه نرمه کړي او خلکو ته دې د ديني مکلفيتونو ترڅنګ د اسلامي نظام او ملي ګټو د ساتنې روحيه هم ورکړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، په افغانستان کې د مقدس جهاد د فرضيت اسلامي روايت په مدارسو کې ظهور وکړ، کليو او ښارونو ته پراخ شو او په داسې عمل او تقابل بدل شو، چې سترو کفري لښکرو ته يې ماتې ورکړه. محترم ملا صاحب د ټولنې د فکري اصلاح، د غير اسلامي فرهنګونو د له منځه وړلو او د اسلامي روايتونو د ساتنې په برخه کې د مدارسو رول مهم وباله او ټينګار يې وکړ، چې مدارس بايد په هر ډول حالاتو کې خپل اصلي مسير ثابت وساتي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له جامعه فتح العلوم کابل مدرسې څخه فارغ شوو حافظانو او د هغوی کورنيو ته مبارکي ووېله او له دوی څخه يې هيله وکړه چې په خپل علم عمل وکړي، نورو ته يې وښيي او له خلکو سره د نبوي اخلاقو په چوکاټ کې چلند وکړي.




## له کونړ سيند څخه تر درونټې بند پورې د اوبو رسولو وړانديز د تاييد وړ وبلل شو

د اقتصادي کميسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د قوس مياشتې په ۲۴مه نېټه په مرمرينه مانۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له کونړ سيند څخه د ګمبيري دښتې د ښکتنۍ برخې په مسير د درونټې بند تر کاسې پورې د اوبو رسولو وړانديز د بحث لپاره وړاندې شو. له هراړخيز بحث وروسته ياد وړانديز د تاييد وړ وبلل شو او د نهايي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کميسيون ته راجع شو.

له کونړ سيند څخه درونټې بند ته د اوبو په انتقال سره به د ننګرهار ولايت د ډېرې کرنيزو ځمکو د اوبو کمبنت ستونزه حل شي.



همدارنګه په دې غونډه کې د بادغيس ولايت د حلقوي سړک د پنځمې برخې (۲۵ کيلومتره) پروژې په اړه هم بحث وشو. په دې اړه ځانګړې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د يادې پروژې هراړخيزه څېړنه ترسره او راپور يې د اقتصادي کميسيون د تخنيکي کمېټې راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي.

## په سرپل او جوزجان ولايتونو کې د سوداګريزو مارکېټونو د جوړولو پر طرحو بحث وشو

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د قوس مياشتې په ۲۵مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د سرپل ولايت په ګوسفندي ولسوالۍ او د جوزجان ولايت په مرکز کې د سوداګريزو مارکېټونو د جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. له مفصل بحث وروسته ټاکلې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د يادو طرحو هراړخيز تحليل ترسره او راپور يې په ټاکلې نېټه د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

## امارت‌اسلامی: افغانستان یکی از پایین‌ترین نرخ‌های تورم در منطقه را دارد



ذبیح‌الله مجاهد، سخن‌گوی امارت اسلامی افغانستان، با نشر بخشی از گزارش بانک جهانی گفته است که نرخ تورم در افغانستان در سال میلادی جاری به‌طور متوسط ۲ درصد برآورد شده که یکی از پایین‌ترین نرخ‌ها در منطقه به‌شمار می‌رود. آقای مجاهد دلیل این وضعیت را ثبات قیمت‌های مواد غذایی و تقویت پول ملی افغانستان عنوان کرده است. وزارت اقتصاد نیز می‌گوید که امارت اسلامی افغانستان با اتکا به تقویت زراعت و راه‌اندازی پروژه‌های زیربنایی، در تلاش رشد اقتصادی کشور است. این وزارت می‌گوید: «سیاست اقتصادمحور امارت اسلامی با اتکا به ظرفیت‌های داخلی، تقویت زراعت، زیربناهای افغانستان و همچنین ثبات قیمت‌ها و تقویت ارزش پولی، سبب شده است که افغانستان در سال های متوالی رشد امیدبخش را تجربه کند.» بانک جهانی در گزارش تازه‌ی خود گفته است که اقتصاد افغانستان برای دومین سال متوالی مسیر رشد را تجربه می‌کند؛ رشدی که با وجود مهار نسبی تورم و بهبود درآمد داخلی، همچنان زیر سایه ی چالش‌های عمیق ساختاری، فقر گسترده و فشارهای نفوس قرار دارد. بر بنیاد این گزارش، بانک جهانی پیش‌بینی کرده است که تولید ناخالص داخلی افغانستان در سال ۲۰۲۵ میلادی به ۴,۳ درصد برسد؛ در حالی که این رقم در سال ۲۰۲۴ نزدیک به ۲,۵ درصد برآورد شده بود. همچنین در راپور آمده است که شرایط مالی در بخش عواید در حال بهبود است و انتظار می‌رود عایدات مالیاتی داخلی به دلیل اقدام‌های اجرایی، در سال ۲۰۲۵ به ۱۷,۱ درصد از تولید ناخالص داخلی افزایش یابد. در گزارش بانک جهانی آمده است که رشد سریع جمعیت در سال ۲۰۲۵ نزدیک به ۸,٦ درصد برآورد می‌شود که باعث کاهش نزدیک به چهاردرصدی عاید سرانه خواهد شد. عبدالبصیر ترکی، آگاه اقتصادی، در باره‌ی گزارش بانک جهانی چنین می‌گوید: «در این‌که مشکل‌های فعلی وجود دارد، شکی نیست؛ یکی از عامل‌های آن این است که بانک جهانی پروژه‌های خود را لغو کرده و فعلاً تمایلی به سرمایه گذاری در افغانستان ندارد.»

## افزایش چشمگیر دادوستد تجاری میان افغانستان و روسیه

وزارت صنعت و تجارت اعلام کرده است که دادوستد تجاری میان افغانستان و روسیه افزایش یافته است. بر بنیاد آمار این وزارت، ارزش مبادلات تجاری میان دو کشور در هشت ماه نخست سال جاری خورشیدی به ۳۶۶ میلیون دالر رسیده است. مسؤلین این وزارت، گفته است که میزان تجارت دو کشور در مدت مشابه سال گذشته ۱۷۴ میلیون دالر بوده است که نشان‌دهنده افزایش ۱۹۲ میلیون دالری در تبادلات دوجانبه می‌باشد. این مسؤلین افزود: «اقلام عمده صادراتی افغانستان به روسیه شامل کشمش، سنگ‌های معدنی، زردآلو، دیگ بخار، سنگ تالک و پنبه می‌باشد؛ در حالی که واردات از روسیه شامل گاز طبیعی، تیل پترول، چوب، روغن آفتابگردان، مواد خام مورد استفاده در کارخانه های صنعتی، گندم و تیل دیزلی است.» برخی از آگاهان امور اقتصادی باور دارند که تقویت روابط تجاری و اقتصادی میان کابل و مسکو می‌تواند زمینه‌ساز سرمایه گذاری‌های مشترک، به‌ویژه در بخش‌های انرژی، زراعت و صنعت شود و در نهایت به افزایش ثبات اقتصادی در کشور کمک کند. شایان ذکر است که روسیه از بزرگ‌ترین تولیدکنندگان مواد خوراکی، نفت و گاز، فلزات و مواد خام صنعتی در جهان است. دسترسی افغانستان به این بازار می تواند زمینه تأمین پایدار کالاهای ضروری با قیمت مناسب را فراهم سازد.



اوونیزه
ابادئ
هفته‌نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلــو په برخــه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

## تلاش‌ها برای تامین نیاز سمنت در داخل کشور

ریاســت شرکت‌های امارتی می‌گوید که برای تامین نیازهای داخلی در بخش تولید ســمنت، هم‌اکنون دو کارخانه از جمله غوری و جبل‌السراج در کشور فعال است که ظرفیت مجموعی تولید آن‌ها به ۷۷۰ تن در یک شــبانه‌روز می‌رســد. به‌گفته‌ی مســؤلان این شرکت، این میزان تنهــا می‌تواند ۴ تا ۵ درصد نیازهای داخلی را پاســخ دهد؛ مگر تلاش‌هــا برای افزایش ظرفیت تولید هم‌چنان ادامه دارد. مسؤلین شرکت‌های امارتی، در این باره تاکید کرد که: « کارخانه‌ی سمنت غوری در ۲۴ ســاعت ظرفیت تولید آن ۷۰۰ تن است و از کارخانه‌ی سمنت جبل‌السراج تا ۷۰ تن می‌رسد.» در همین حال، وزارت معادن وپترولیم اعلام کرده است که پس از حاکمیت دوباره‌ی امارت اســلامی، پنج پروژه‌ی تولید ســمنت با شرکت‌های داخلی و خارجی قرارداد شده که حجم مجموعی سرمایه‌گذاری در آن‌ها به ۷۶۸ میلیون دالر می‌رســد. مسؤلین این وزارت، در این باره گفت: « با شرکت‌های داخلی و خارجی عقد قرار داد کرده است که حجم سرمایه گذاری در آن‌ها ۷۶۸ میلیون دالر است و در ولایت های پروان، لوگر، هــرات، قندهار و جوزجان موقیعت دارند.» همزمان، مســؤلان شرکت انکشاف‌ملی که مدیریت پروژه‌ی تولید ســمنت غوری را برعهــده دارند، می‌گویند که با افزایش تقاضای بازار، این شرکت کار روی بخش سوم کارخانه ی تولید سمنت غوری را آغاز کرده است. شرکت انکشاف‌ملی، در این باره افزود: « اینکه تقاضا زیاد اســت شرکت انکشافی ملی کار بخش ســوم کارخانه‌ی سمنت غوری را آغاز کرد و این کارخانه ظرفیت تولید پنج هزار تن ســمنت را در ۲۴ ساعت دارا خواهد بود.» این در حالی‌ســت که افغانســتان اکنون بخش بزرگــی نیاز خود به ســمنت را از کشــورهای دیگــر، ایران، تاجیکستان، اوزبیکستان و قزاقستان تامین می کند.



# سړې خونې

### اقتصادي ارزښت او د کرنيزو محصولاتو په خوندي ساتلو کې يې رول

فضل ولي شيراني

### سریزه

د ســړوخونو د جوړېدو د اړتیا یو مهم دلیل دادی چې له دې لارې کولای شــو کرنیــز محصولاتو تر ډېرې مودې پورې وســاتو. ډېرې دغه ډول محصولات په کمه موده کې خرابېږي او د ساتنې له پاره یې اړتیا ده چې په داسې ځــای کــې وســاتل شي چــې د تودوخې درجــه یې د محصولاتــو د ســاتنې لــه پاره مناســبه وي، تــر څو د محصولاتو د کیفیت یا په بشپړ ډول له منځه تلو مخنیوی وشي. د مثــال په ډول کولای شــو وواېو چــې زردالو، ګیلاس، منې، انار یا هم بلا بېلې ســبزی او داسې نور که چېرې په ســړو خونو کې ونه ساتل شي، په څو ورځو کې له استفادې څخه وځي او خرابېږي. نو په کار ده چې د دې کرنیــزو محصولاتو له پاره ســړې خونې جوړې او کرنیــز محصولات په خوندي ډول پکې وســاتل شي. په دې سره کولای شــو چــې د ســوداګرو او بزګرو د زیان مخنیوی وکړو او هم وخت پر وخت کرنیز محصولات بېلا بېلــو بازارونو تــه وړاندې کړو. افغانســتان چې یو کرنیز هېــواد دی او زیاتره وګړي یې پــه کرنه بوخت دي، ډېر کله د ســوداګریزو لارو د بندېدو له امله یې زیاتره کرنیز محصولات یا خو له منځه ځي او یا هم په نیمه بیه پلورل کېږي. د اســلامي امارت په راتګ سره د افغانســتان د کرنیــزو محصولاتــو لــه پــاره د بازارموندنــې او د دې محصولاتو د خوندي ســاتلو په برخــه کې کوټلي ګامونه پورته شوي دي. دا مهال د هېواد په ځینو ولایتونو کې د کرنیزو محصولاتو د خوندي ســاتلو په موخه د سړو خونو جوړېدو ته مخه شوې ده. د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتــو له مخې دا مهال د ۲۶ زره متریک ټنو په ظرفیت د ۲۲ سړو خونو د جوړېدو چارې روانې دي. د دې ترڅنګ د خصوصي ســکتور له لوري هــم په ځینو ولایتونو کې سړې خونې جوړې شــوې چې د زرګونو ټنو کرنیزو محصولاتو د ساتنې وړتیا لري. دا چې سړې خونې څه اقتصادي اهمیت لري، لاندې پرې غږېږو.

### سړې خونې، اقتصادي ارزښت او د کرنيز محصولاتو په ساتنه کې يې رول

دا خو ټولو ته جوته او معلومه ده چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی او د خلکــو ډېره برخه یې له کرنې سره تړاو لري. زموږ د بزګرانو ستړیا او حاصل د ساتنې لپاره د سړو خونو جوړېدل هغــه اړتیا ده، چې نــه یوازې د محصولاتــو د ضایع کېدو مخنیوی کوي، بلکې د هېــواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې هم مهم رول لوبوي. سړې خونې د دې وړتیا لري، چې د کرنیزو محصولاتو د خرابېدو مخه ونیسي او بزګرانو ته دا زمینه برابره کړي، تر څو خپل حاصل په مناســب قیمت بازار ته وړاندې کړي. دا چــاره د دې لامل ګرځي چې د بزګر عاید لوړ او په کورني بازار کې د میوو او سبزیجاتو نرخونه ثابت پاتې شي. د دې ترڅنګ د سړو خونو په جوړېدو سره د دې زمینه برابرېږي چــې د صادراتــو په کچه کــې زیاتوالی شي. کــوم کرنیز محصولات چې د ډېر وخت له پاره د ساتلو وړ نه وي، د سړو خونو په مرسته کولای شو هغه وساتو او په مناسب وخت کې



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه ابادي
هفته نامه آبادی


يې بازار ته وړاندې کړو. په دې سره نه يوازې سوداګري پرمختګ کوي بلکې افغانستان ته د بهرنيو اسعارو د راتګ له پاره هم لار پرانستل کيږي.

دلته افغانستان دوې ګټې کوي يوه دا چې هېواد به د اقتصادي ځان بسيانې په لوري سوق شي او له بل لوري به خلکو ته د کار زمينه هم برابره شي. له دې سره جوخت سړې خونې يوازې د محصولاتو د ساتنې ځای نه دی، بلکې د پانګوالو له پاره د اوږدمهاله ګټې يوه مهمه سرچينه هم ده. که چيرې په هېواد کې سړې خونې جوړې شي، په برکت به يې هم بزګر، هم سوداګر او هم مصرفوونکی ټول ګټه ترلاسه کړي. اسلامي امارت د سړو خونو اقتصادي اهميت ته په کتو په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. موده وړاندې د اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د يوې مهمې پرېکړې په ترڅ کې اعلان وکړ، چې په هېواد کې به د سړو خونو جوړوونکو ته د پنځو کلونو لپاره ټول ماليات معاف وي. دا پرېکړه د پانګوالو د تشويق، د بزګرانو د هڅونې او د هېواد د اقتصادي ودې لپاره يو ارزښتناک ګام وبلل شو. له هغه وروسته د اسلامي امارت په ګډون خصوصي سکټور هم په افغانستان کې د سړخونو جوړېدو ته مخه کړې ده. د خصوصي سکټور له لوري په کابل، لوګر او کندوز کې د سترو سړخونو جوړېدل يې ښې بېلګې دي. خو اسلامي امارت په حکومتي کچه هم دې برخې کې اقدامات ترسره کړي دي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پر اساس، اوسمهال د هېواد په ۱۲ ولايتونو کې د ۱۴ سړو خونو د جوړېدو چارې روانې دي، چې هره خونه په ځانګړي ډول ۱۵۰۰ او په مجموعي ډول ۲۱ زره متريک ټنه ظرفيت لري. د دې ترڅنګ، د هېواد په شپږو زونونو کې هم د ۸ سړو خونو د جوړېدو چارې پيل شوې چې په مجموعي ډول ۵۰۰۰ متريک ټنه ظرفيت لري. د کرنې وزارت د معلوماتو له مخې، په پام کې ده چې په راتلونکي کې په کابل او بلخ ولايتونو کې د چين له هېواد سره په ګډه د تازه ميوو او سبزيجاتو د ساتلو لپاره ۳ سړې خونې جوړې شي، چې هره خونه به ۱۵۰۰ متريک ټنه ظرفيت ولري. د دې خونو د چارو په بشپړېدو سره به د کرنيزو محصولاتو په ځانګړي ډول د تازه ميوو او سبزيجاتو د ساتلو په برخه کې د بزګرانو ستونزې د پام وړ راکمې او دغه توکي به د اړتيا په صورت کې په مناسب قيمت بازار ته وړاندې شي. د دې سړخونو په جوړېدو سره به له يوه لوري د بزګرانو کرنيز محصولات خوندي او په خپل وخت او په مناسبه بيه وپلورل شي، له بل لوري به د دې وېره نه وي چې که سوداګريزې لارې بندې شي، نو کرنيز محصولات به يا خرابېږي او يا به په نيمه بيه پلورل کيږي. په دې سره به هم سوداګري وده وکړي او هم به د بزګرانو په عوايدو کې زياتوالی راشي.

## پايله

په ټوله کې د سړو خونو جوړېدل، د افغانستان د کرنې او اقتصاد لپاره د نوې هيلې پيغام دی. دا نوښت نه يوازې زموږ د بزګرانو د زحمتونو د خوندي کولو وسيله ده، بلکې د هېواد د ځان بسيانې، د صادراتو د پراختيا او د خلکو د اقتصادي سوکالۍ لپاره يوه مهمه لاره هم ده. که په امارتي او خصوصي ډول د سړخونو د جوړېدو دغه لړۍ همداسې روانه وي، لرې نه ده چې د افغانستان کرنيز محصولات به هر وخت او په هر موسم کې نړيوالو بازارونو ته لار پيدا او د صادراتو کچه به لوړه شي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امريکايي ډالر | ٦٦,٢٧؋ | ٦٦,٣٠؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ٢٢٧؋ | ٢٢٧؋ |
| ١٠٠٠ | ايراني تومن | ٠,٥١؋ | ٠,٥٢؋ |
| ١ | اروپايي يورو | ٧٧,٦٤؋ | ٧٧,٦٧؋ |
| ١ | روسي روبل | ٠,٨٢؋ | ٠,٨٢؋ |
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ٧٣٣؋ | ٧٣٤؋ |
| ١ | انګليسي پونډ | ٨٨,٣٧؋ | ٨٨,٤١؋ |
| ١ | سعودي ريال | ١٧,٦٧؋ | ١٧,٦٨؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٨,٠٤؋ | ١٨,٠٥؋ |
| ١ | چيني ين | ٩,٤١؋ | ٩,٤٢؋ |

